مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

تمهید سیلاني ۲۰۱۹/۰۹/۲۷

د چلیپایي، حلزوني او زنځیري قافیو پېژندنه او سپړنه

دا چې د شعر په باندنۍ موسیقي او ښکلا کې قافیه رغنده رول لري، نو شاعران تل هڅه کوي چې ښکلي او زړه وړونکي کلمات د اشعارو په قافیو کې غوره کړي، ترڅو د شعر باندنۍ ښکلا او موسیقۍ ته یو نوی رنګ ورکړي او لوستونکي د خپل کلام لوستلو ته را وبلي. همدا قافیه ده، چې په شعر کې بېلابېلې بڼې او ځېلونه(فورمونه) را منځته کوي او مور د هغه له مخې یوه ته غزل بل ته بوللـه .... وایو. که چېرې مور د غزل، مثنوي، قصیدې او داسې نورو شعري ځېلونو جوړښت ته پام وکړو، نو قافیه پکې بنسټیز رول لري او مور د همدې قافیوي کلماتو د ځای د بدلولو او را بدلو له مخې د شعري فورم توپیر کولی شو. د بېلګې په توګه : که مور د څلورېزې او قطعې ظاهري جوړښت ته وګورو، نو دواړه څلور مسرې لري، توپیر یې په دې کې دی، چې د قافیو ځایونه یې سره توپیر لري... دا څېړنه ما د دریو نویو قافیو په هکله په څلورو ژبو (پښتو، دري، انګلیسي او ترکي) ژبو ترسره کړې، په دې څېړنه کې دري نوې قافیې، چې مور یې شعري ژانرونه بولو په څلورو ژبو کې له پېژندنې، تاریخ شالید او بېلګو سره وړاندې شوي دي. داچې ولې په نورو ژبو (انګلیسي، ترکي او دري) ژبو کې نوموړو ژانرونو ته د قافیې نوم ورکوي؟ ځواب یې ځینو ایراني لیکوالو داسې ورکړی، چې زه یې په لنډو دلته یادونه کوم. داچې قافیه په عروضي شاعرۍ کې بنسټیز توکی دی او مور شعري ژانرونه د قافیوي کلمو د ځای د بدلون پر بنسټ بېلو، نو مور ځکه نوموړو ژانرونو ته دا نومونه ورکړي دي. باید یادونه وکړم ، چې زه هم پورته یاد شوي شعري ژانرونه قافیې نه بولم، بلکې دا د عزل، قصیدې او نورو شعري فورمونو په شان شعري فورمونه دي... هېره دې نه وي چې په یادو شعري قافیو یا هم شعري ژانرو یوه مقاله په دري ژبه لیکل شوې وه، په پښتو ژبه کې زما تر سترګو داسې کومه لیکنه نه تېره شوې چې حتا د نوموړو ژانرونو نومونه یې یاد کړي وي او یا هم نوموړي شعري ځېلونه یې کارولي وي. زه په دې باور یم چې زما لیکنه په پښتو ژبه کې لومړنۍ لیکنه ده او دهغه پښتنو شاعرانو شعرونه چې ما د نوموړو قافیو په بېلګو کې کارولي دي، په دغه برخه کې لومړني لیکل شوي اشعار دي. دا ژانرونه د لویدیځو ادبیاتو زېږنده ده، چې روسته د ترکي او له ترکي ژبې فارسي ژبې را لېږدول شوي دي. ما هم دا هڅه وکړه چې یاد شعري ژانرونه دې په پښتو ژبه کې هم رایج شي. په پای کې غواړم یادونه وکړم، چې زما لیکنه کېداشي ډېر تېروتنې ولري، نو له ټولو درنو لیکوالو په ډېر درنښت هیله کوم، چې دا لیکنې ته پخپلو نېکو مشورو سمون ورکړي.

۱. چلیپایي قافیه

دغې قافیې ته په انګلیسي ژبه کې Alternate rhyme ، په ترکي ژبه کې Çapraz kafıye او په فارسي ژبه کې ورته د چلیپایي قافیې نوم کارول کیږي. په دې ډول قافیه بندۍ کې معمولاً څلور مسرې یا دوه بیته په داسې بڼه راځي، چې لومړۍ مسره له دریمې او دویمه له څلورمې سره هم قافیه وي. یا په بله وینا طاقي یا مفردې مسرې له طاقو او مفردو مسرو سره او جفتې مسرې له جفتو مسرو سره هم قافیه وي. د چلیپایي قافیې هندسي جوړښت په لاندې ډول دی:

a
b
a
b

Alternate rhyme: In an alternate rhyme, the first and third lines rhyme at the end, and the second and fourth lines rhyme at the end following the pattern **ABAB** for each stanza. This rhyme scheme is used for poems with four-line stanzas.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په انګليسي ژبه کې د چلېيايي قافيې بېلګې :

Whilst traveling in Istanbul, I got
A wire from Uncle Ned, who'd kept my cat.
"Puss darted from the curb; a greasy spot
Upon the street shows where she ended at."
"Oh Ned!" I sent as my reply, "How kind
Was that? Far better break the news by small
Degree! First, tell me that she climbed behind
Your back and sits upon the roof. When all
Of that's absorbed then wire again to say
She fell, was hurt, malingers, may not live
To see the morrow. Then at last belay
My tender fears and when I'm ready give
The awful news." He wired again, aloof.
"Your Nana, nephew, sits upon the roof."

په لومړي شعر کې (got او spot، cat او at ، kind او behind، small او all، say او belay ، give او live) سره هم وزنه او هم قافيې کلمې دي. چې دې دول قافيې ته په انګليسي ژبه کې Alternate rhyme وايي.
په انګليسي ژبه کې د والتر لاندر د شعر بېلګه په چلېيايي قافيه کې:

Mother, I cannot mind my wheel
My finger ach, my lips are dry
Oh, if you felt the pain I feel
But oh, who ever felt as I
(sokhanvar,1996:170)

په پورته څلورو مسرو کې (wheel او feel) چې لومړۍ او درېيمې مسرو کې دي، د قافيې کلمې جوړوي.
همدارنګه د (dry او I) کلمې چې په دويمې او څلورمې مسرو کې دي، د قافيې کلمې جوړوي.
دا دول قافيه په لويديځو ادبياتو کې ډېره کارول کيږي، خو د ترکي ژبې په کلاسيکو ادبياتو کې هم له دغه دول قافيې څخه ګټه اخستل شوې ده، مګر دا نشو ويلی چې ترکي شاعرانو نومورې قافيه له لويديځو ادبياتو او شاعرۍ څخه خپل کړې دي... لکه څنګه مو چې پورته يادونه وکړه، دي دول قافيې ته په ترکي ژبه کې (Çapraz kafıye) قافيه وايي. د Çapraz (چاپراز) کلمه اصلاً د فارسي ژبې (چپ او راست) ويی دی، چې د وخت په تېرېدو سره يې بدلون موندلی، چې د چلېيا په معنا دی. په دې برخه کې لومړی په ترکي ژبه د چلېيايي قافيې پېژندنه کوم او وروسته يې تاسو ته په هماغه ژبه بېلګې وړاندې کوم.

Çapraz Kafiye

Bir dörtlükte; birinci mısra ile üçüncü mısraın, ikinci mısra ile de dördüncü mısraın kafiyeli olmasıdır. abab şeklinde gösterilir.

a- Hayran olarak bakarsınız da,
b- Hûlyanızı fetheder bu hâli.
a- Beş yüz sene sonra karşınızda,
b- İstanbul Fethi'nin hayâli.
a- Bir hayalet gibi dünya güzeli,
b- Girdiğinden beri rüyâlarına.
a- Hepsi meshûr, o muamma güzeli,
b- Gittiler görmeye Kaf dağlarına.

لکه څرنګه مو چې يادونه وکړه، په ترکي ژبه کې دي دول قافيې ته چېراز (**Çapraz Kafiye**) وايي، **پېژندنه يې په ترکي ژبه کې هم په دې دول ده: هغه څلور مسرې چې لومړۍ مسره يې له درېيمې او دويمه يې له څلورمې سره هم قافيه وي، چاپراز قافيه بلل کيږي. په پورته اتو مسرو کې (** bakarsınız da او karşınızda، hâli. او hayâli، dünya او muamma، rüyâlarına او dağlarına) د قافيې کلمې دي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په لاندې څلوريزه کې د عثماني خلافت له دور مخکې يا د کلاسيکي دورې هغه شعر تاسو ته وړاندې کوم چې په هغه وخت کې د ترکي ژبې ليکدود د عربي ژبې د ليکدود په تقليد ليکل کېده.

داغلارين لاله سی، باغين جلاسی
رحمت خدادان باهاردا گلير
گول لرين گوزلی بولبول صداسی
دوکونور انسانا سحرده گلير (Elçin، ۲۰۰۵:۴۵۳)

په پورته مسرو کې (جلاسی، صدامی او گلبر، گلير) د قافيې کلمې جوړوي، چې لومړۍ له درېيمې او دويمه او څلورمې سره هم قافيه دي. تاسو کولی شئ د چلېپايي قافيې بېلګې د مولانا د معاصر، يونس عمره په شعرونو کې پيدا کړئ. نورې بېلګې يې :

Gördüler: “Aynada bir gizli cihan…
Ufku çepçevre ölüm servileri…”
Sandılar doğdu içinden bir an
O, uzun gözlü, uzun saçlı peri.
(Yahya Kemal Beyatlı)

Şu bakır zirvelerin ardından
Bir süvari geliyor kan rengi.
Başlıyor şimdi melûl akşamdan
Son ışıklarla bulutlar cengi…
(Ahmet Haşim)
Kara gözlüm, efkârlanma gül gayrı,
İbibikler öter ötmez ordayım…
Mektubunda diyorsun ki “Gel gayrı!”
Sütler kaymak tutar tutmaz ordayım…
(Bekir Sıtkı Erdoğan)

د فارسي ژبې په کلاسيکه شاعرۍ کې د دا دول قافيو ډېرې نادرې بېلګې تر سترګو کېږي، چې هغه هم په اتفاقي دول رامنځته شوي دي. زه له هغه له دلې څخه دلته دوه بېلګې تاسو ته در وړاندې کوم، لومړی دوه بيته د ښاغلي شهيد بلخي، چې نوموړی د درېيمې پېړۍ د وروستيو او د څلورمې پېړۍ د لومړۍ کلونو شاعر دی، چې د کلام يوه بېلګه يې تاسو ته وړاندې کوم:

اگر تو را ملک چينيان بديدی روی — نماز بردی و ديناز بر پراکندی
و گر تو را ملک هندوان بديدی موی — سجود کردی و بت خانه هاش برکندی
(دبير سياقی ۱۳۷۰:۱۱)

په پورته څلورو مسرو کې (روی او موی) چې د لومړۍ او درېيمې مسرو د قافيې کلمې دي، سره ورته قافيه جوړوي. همدارنګه (پراکندی او برکندی) چې د دويمې او څلورمې مسرو دقافيې کلمې دي، سره ورته قافيې

جوړوي. دغه دول قافيوي جوړښت ته چلېپايي قافيه وايي.
د چلېپايي قافيې يوه بېلګه د سعدي د گلستان په لومړيو کې:

اول ارد يبهشت ماه جلالی — بلبل گوينده بر منابر قضيان
بر گل سرخ از نم اوفتاده لالی — هم چو عرق بر عذار شاهد غضبان
سعدی، ۱۳۷۳؛۵۴

په پورته مسرو کې (جلالی، لالی او قضيان غضبان) د قافيې کلمې جوړوي.
د فارسي ژبې په ادبياتو کې په اګاهانه توګه د لومړي ځل لپاره علامه د هدا چلېپايي قافيه په خپلو اشعارو کې وکاروله، ده په خپل مشهور شعر (ياد آر) کې چلېپايي قافيه وکاروله. مګر د نوموړي شعر قافيوي بڼه د چلېپايي قافيې سره په توپير کې ده، هغه دا چې په چلېپايي قافيه کې معمولاً هر بند له څلور مسرو څخه جوړيږي، مګر د دهخدا په دغه شعر کې اته مسرې يو تربله چلېپايي قافيه جوړوي. د بېلګې په توګه :

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ای مرغ سحر، چو این شب تار — بـگـذاشـت ز سـر سیـاه کاری
وز نـفـحه روح بـخش اسحار — رفت از سـر خـفتگان خماری
بـگشـود گـره ز زلـف زرتار — مـحبـوبـه نـیـلـگون عماری
یـزدان بـه کـمـال شـد پدیدار — و اهـریمن زشت خو حصاری
(دهخدا، ۷:۱۳۶۶)

د دهخدا د شعر په پورته بیتونو کې څلور طاقي مسري سره همقافیه کلمې(تار، اسحار، زرتار او پدیدار) لري او څلور نوري جفتي مسري هم سره ورته د قافیې کلمې (کاری، خماری، عماری او حصاری) لري، چې چلیپایي قافیه جوړوي. دهخدا د شعر دغه ډول قافیوي جوړښت له میرزا علي اکبر صابر څخه زده کړې دي.
(بخشی، ۱۳۹۱: ۱۹-۲۱)
یولس کاله وروسته میر زاده عشقي په ۱۳۳۷ ل کال یو شعر د همدې قافیې په جوړښت ولیکه، لکه څرنګه چې پخپله عشقي وایي: چې ددغه شعر یوازې یو بند یې په یاد دی او نور یې له هېره وتیث دی. په دغه شعر کې بناغلي عشقي تولې ۲۴ مسرې د چلیپایي قافیې په بڼه لیکلې دي، چې له هغه څخه یوازې لومړي دوه د پیل بیتونه یې دلته تاسو ته راوړم:

در منـتـهی الیـه خـیـابـان بـود پدید — تـهـران بـرون شهر خـرابه یکی به پای
گسترده مه ز روزنه شاخه های بید — فرشی که تابد، ار که بلرزد همی هوای
(عشقي، ۱۳۵۰: ۳۱۶)

په فارسي ژبه کې د وخت په تېرېدو سره ډېرو نور شاعرانو لکه : پروین اعتصامي، ابوالقاسم لاهوتي او داسي ډېرو نورو شاعرانو ددغې قافیې په جوړښت شعرونه ولیکل، حتی د تجدد ګرایانو د مشروطه غوښتونکو عصر شاعرانو کې دا ډول قافیه تر تولو ډېره وکارول شوه. لاهوتي، تقي رفعت، جعفر خامنه ای او شمس کسمایي په ایران کې د نوي ادبي بهیر سر لاري دي، دوی په ډېره پراخه پیمانه نومورې قافیه په خپلو اشعارو کې وکارولې. چلیپایي قافیه په دغه پیر کې دومره مشهوره شوه چې نوم وتي سنت ګرا شاعر ملک الشعرا بهار او تقی رفعت چې د نوي ادبي بهیر وتلي شاعران دي، خپل دېر اشعار په دغه قافیه کې وپېیل. هغه خپل شعر چې ((بنای یادگاری)) نومیږي او د پوشکین د یوې منظومې ژباړې پر وړاندې یې لیکلی دی، غواړم تاسو ته وړاندې کړم:

در دهـــر بـــزرگ یـادگـاری — کـردم ز برای خـویش بنیاد
بـنـیـاد بـنـــای پـــایـــداری — بـی یاری دست من شد ایجاد
خـار و خـس روزگـار ناسازی — سـد کـــردن راه او نـیـارد
چون بانی خود ز فرط اعزازی — سر پیش کسی فـرو نیارد

نورې بېلګې یې د نیما په اشعارو کې :

در مـیان بس آشـفـته مانده — قصه دانه اش هست و دامی
وز همه گفته نا گفته مانده — از دلـی رفـتـه دارد پـیـامـی
(نیما، ۱۳۷۱: ۳۸)

په پورته اشعارو کې (یاد ګاری، پایداری، ناسازی ، اعزازی او بنیاد، ایجاد او نیارد) د قافیې کلمې جوړوي. په دویم شعر کې (مانده، مانده او دامی، پیامی) د قافیې کلمې جوړوي.
په پښتو ژبه کې دا ډول قافیه په لرغوني او منځنۍ دور کې کوم شاعر نه ده کارولې او که چېرې کارولې یې هم وي، نو په ناخبره توګه یې کارولې ده، هغه په دې معنا چې له چلیپایي قافیې ناخبره یې دا کار تر سره کړی دی. خو په معاصره یا اوسنۍ دوره کې د لومړي ځل لپاره زمونږ څو تنو تاندو شاعرانو: هر یو محمد ابراهیم کرور، مهربان ستومان او پوهنیار استاد خلیل الله حنیف په خپلو اشعارو کې دا ډول قافیه کارولې ده چې تاسو ته یې د شعر بېلګې وړاندې کوم:

لیونی پر بام ختله کبوتله
یو ساعت کې به سل وار طلوع غروب
کرور څه ونکړل، نه منع کېدله
نادیدک ته شول بسیار طلوع غروب

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که د ښاغلي کرور پورتني بيت ته ځير شو، نو (کښوتله، کښدله او وار، بسيار) د قافيې کلمې دي، چې د چلېپايي فورم سره په جوړښت لومړۍ مسره له درېيمې او دويمه له څلورمې سره هم قافيه دي. دي ډول قافيې ته چلېپايي قافيه وايي. هېره دې نه وي، چې (طلوع غروب) په دويمې او څلورمې مسرو کې ردیفونه دي.
د ښاغلي استاد پوهنيار خليل الله حنيف، د شعر هغه بېلګه تاسو ته وړاندې کوم چې په چلېپايي قافيه کې يې ليکلی دی:

چې د حسن دي خيرات و ما خبر کړه
مات کچکول د ملنګی زما په نوم دی
څه حېصه تري را جدا زړه دي اتمر کړه
بادشاهی کې مې بيا ګوره خاص د روم دی

په پورته دوه بيتونو (څلورو مسرو) کې (خبر، اتمر او نوم، روم) د قافيې کلمې جوړوي. همدارنګه (کړه او دی) يې ردیفونه دي.
د ښاغلي مهربان ستومان په يوه څلوريزه کې چلېپايي قافيه تر سترګو کيږي:

للمه د ګلونو دلته نه کيږي
هېڅ د بارانونو امکان نشته دی
ښکلي چمنونه دلته نه کيږي
هېڅ د بارانونو امکان نشته دی

که پورته څلوريزې ته ځيز شو، نو يوه مسره (دويمه) پکې د تکرار په ډول راغلې ده، د بنې په لحاظ چلېپايي قافيه ته ورته او په هماغه بڼه ليکل شوی دی. چې (ګلونو او چمنونو او هېڅ د بارانونو امکان نشته دی) سره د قافيې په بڼه راغلي دي.
يادونه : چلېپايي قافيه د جوړښت په لحاظ څلوريزې ته ورته ده، خو يوازې يې د قافيې ځايونه پکې تغير شوي دي. نو ځکه ورته چلېپايي قافيه وايي، چې د څلوريزې داخلي بڼه د قافيو پر بنست بدلون موندلی نو ويلې شو، چې مور شعري ځېلونه يا فورمونه د قافيوي کلمو د ځای ټاکنو له مخې نومو، چې ليکوالو هم نومورې بڼې ته دچلېپايي نوم ورکړی دی.

۲. حلزوني قافيه

دي ډول قافيې ته انګليسي ژبه Enclosed rhyme وايي، دغه ډول قافيه د اروپايي شعر زېرنده ده. نومورې قافيې د اسلامي هېوادونو په ادبياتو کې، په ځانګړې توګه د ترکي ژبه په ادبياتو کې هم لرغونتوب نه لري... لومړی د ترکي ژبې ليکوالو او شاعرانو له لويديځو ادبياتو څخه دا ډول قافيه له نويو شعري ځېلونو سره خپلې ژبې او ادبياتو ته را دننه کړل، چې وروسته د دري ژبې ليکوالو د ترکانو په تقليد دا قافيه خپله کړه او نوم يې ورته حلزوني قافيه کښېوده. د نومورې قافيې هندسي جوړښت په دي ډول دی: لومړۍ مسره له څلورمې مسرې سره همقافيه وي او دويمه له درېيمې سره همقافيه وي.

A
B
B

Enclosed Rhyme Definition

An Enclosed Rhyme is a type of poem that features a rhyming scheme that is often found in literature in the form of "ABBA". This means that the first line of the poem and the fourth line of the poem make a rhyme together; Similarly, the second line of the poem and the third line of the poem make a rhyme together as well. In any case, an enclosed rhyme an introverted quatrain, or rather a stanza, as the rhyming lines are in a varying order as opposed to what is normally seen in a complete poem of four lines.
Enclosed rhymes, or enclosing rhymes as also known, can take many forms. An excellent example of this format is featured in Wilfred Owen's "Exposure". This particular piece shows the enclosed rhyming structure throughout each of the eight stanzas that make up the poem itself. Another example of this structure can

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

be found in the very first verse or stanza of Matthew Arnold's piece entitled "Shakespeare".

د انګليسي ژبه پېژندل شوی شاعر اسکار وايلد هغه شعر تاسو ته وړاندې کوم، چې د حلزوني قافيې په بڼه يې ليکلی دی:

An omnibus across the bridge
Crawls like a yellow butterfly
And. Here and there, a passer – by
Shows like a little restless bridge
(Sokhanvar ، ۱۹۹۶ :۱۶۴)

د حلزوني يا Enclosed Rhyme د قافيې له پېژندنې سره سم، پورته څلورو مسرو کې لومړۍ مسره له څلورمې سره همدارنګه دويمه او دريمې سره همقافيې دي، هغه دا چې (bridge او bridge ، butterfly او – by) کلمې سره په وزن او قافيه کې يو شان دي، چې په شعر کې د دا ډول قافيو مراعتولو ته حلزوني قافيه ويل کيږي. دويمه بېلګه:

How soon hath Time, the subtle thief of youth,
Stolen on his wing my three and twentieth year!
My hasting days fly on with full career,
But my late spring no bud or blossom shew'th.
(From John Milton's "On His Being Arrived to the Age of Twenty-Three")

پورته ليکل شويو څلورو مسرو کې (youth او shew'th ، year او career) د قافيې کلمې دي... نوري بېلګې يې:

Uninspired, 'tis a search for Shangri-La,
It's much ado, I mean, don't you think so,
All of this bruhaha, just fools would go,
To this La La Land, --no 'tis other La.

Well, if fools have time for frivolous things,
Let it be theirs, not ours, a game of chance,
--It does seem charming, a touch of romance,
Oh no, a fool's errand, what of your bling's.

--What say you, we both got money, let's go,
'Tis a slide of the hands, all done with mirrors,
Pulled out of the hat, it's flawed with errors,
Yet, you are my friend, answer, that you know.

Let us hire some guide, and one from those schools,
--From the universities, a teacher,
I believe they are called professor, --err,
--Now history, and dishwashing, two fools.
2019 September 22

په ترکي ژبه کې د حلزوني يا سارما قافيې پېژندنه

Sarma Kafiye
Bir dörtlükte; birinci mısra ile dördüncü mısranın ve ikinci mısra ile de üçüncü mısraın kafiyeli olmasıdır. abba şeklinde gösterilir.

لکه څنګه مو چې پورته يادونه وکړه، په ترکي ژبه کې حلزوني قافيې ته **(Sarma Kafiye) يا سارما قافيه وايي. پېژندنه يې په دې دول ده: هغه څلور مسرې چې لومړۍ يې له څلورمې او دويمه يې له درېيمې سره هم**

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

قافيه وي، سارما قافيه بلل كيږي. يا هغې قافيې ته ويل كيږي، چې د (a bb a) بڼه ځانته غوره كړي. بېلګې يې په لاندې اشعارو كې لوستلى شئ.

a- İhtiyar elini bağrına soktu,
b- Dedi ki, “İstanbul Muhasarası.
b- Başlarken aldığım gaza yarası,
a- İçinden çektiğim bu oktu!
b- Bir sonbahar akşamı… sahillerdeyim,
a- Gamlı bir heykel gibi kayalarla ben.
b- Dağınık saçlarımdan pervasız esen,
a- Rüzgârların elinde bir kırık neyim.

په لومړي بند كې (soktu او oktu! ، Muhasarası. او yarası) د قافيې كلمې دي، يعنې د سارما قافيې د پېژندې سره سم لومړى مسره له ځلورمې او دويمه له دريمې سره د قافيې كلمې جوړوي. همدارنګه په دويم بند كې (sahillerdeyim, او neyim. ، ben. او esen,) د قافيې كلمې دي. كه چېرې پورتنيو بندونو ته ځير شو،نود (a bb a) بڼه يې ځانته غوره كړې ده.
په تركي ژبه كې د سارما يا حلزوني قافيې نورې بېلګې په لاندې اشعارو كې لوستلى شئ.

Her şey yerli yerinde; havuz başında servi a
Bir dolap gıcırdıyor uzaklarda durmadan, b
Eşya aksetmiş gibi tılsımlı bir uykudan, b
Sarmaşıklar ve böcek sesleri sarmış evi. a
Tuna’yı görmedim, fakat, tanırım,
Bir ümit önünde koştuğum zaman,
Geçmişi anarak coştuğum zaman
Kendimi Budin’in beyi sanırım.
(Arif Nihat Asya)
Seni sevmek mor denizlerdi biraz
Ne kadar gidilse bir o kadar bitmeyen
Umutlar ve yıkılmalar ardında direnilen
Seni sevmek mevsimler içinde en güzel yaz
(Afşar Timuçin)

په دري ژبه كې د حلزوني قافيې پېژندنه
داسې اټكل كيږي، چې حلزوني قافيه د لومړي ځل لپاره د ((تجدد په ورځپاڼه)) كې د تقي رفعت لخوا پخپلو اشعارو كې له كارولو وروسته خپره شوه. حلزوني قافيه له چلیپايي قافيې وروسته د فارسي ژبې شاعرې ته لاره وموندله او رواج شوه. بايد ووايم چې نومورې قافيه د چلیپايي قافيې په پرتله د فارسي ژبې په شاعرانو كې لږ وكارولە شوه او خوښوونكي يې لږ وو. اوس د جعفر خامنه اى هغه شعر تاسو ته دېبلګې په توګه وړاندې كوم، كوم چې د تجدد ورځپاڼې په پسرلني ګڼه كې په ۱۲۹۷ ل كال د رفعت تر كتنې او ارزوني لاندې خپره شوه:

نـفـرين بـه تو اى عـصـر فـريبنده و غدار — لعنت به تو اى خصم بشر، دشمن عمران
اى بوم، فرو كش نفس، اى داعى خسران — زيـن پس مـشو انـدر پـى ويـارنى آثار

د بشاغلي خامنه اى پورته شعر چې د حلزوني قافيې په هندسي جوړښت كې ويل شوى دى، د (غدار او آثار، عمران او خسران) كلمې پكې د قافيې كلمې دي. چې د حلزوني قافيې له پېژندنې سره سم، د لومړى مسرې قافيه له ځلورمې او د دويمې له دريمې سره هم وزنه او هم قافيه كلمې جوړوي. چې دې دول قافيې ته په دري ژبه كې حلزوني قافيه وايي. همدارنګه نيما په خپل يوه شعر كې چې د ((ققنوس)) په نامه يادېږي، له دغه دول قافيې څخه يوازې په يوه بند كې ګټه اخيستې ده، چې دلته يې تاسو ته وړاندې كوم:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ

آن مرغ نغز خوان
در آن مکان ز آتش تجلیل یافته
اکنون به یک جهنم تبدیل یافته
بسته است دم به دم نظر و می دهد تکان
چشمان تیزبین.... (نیما، ۱۳۷۱: ۲۲۳)

په پورتنۍ شعر کې (خوان او تکان، تجلیل او تبدیل) د قافیې کلمې دي. همدارنګه په دویمه او دریمه مسره کې (یافته ، یافته) ردیفونه جوړوي.
هېره دې نه وي چې له تجدد ګرا شاعرانو وروسته نورو ډېرو شاعرانو حلزوني قافیه خوښه کړې او په خپلو اشعارو کې يې کارولې ده، چې له دې ډلې څخه يو هم ګلچین ګیلاني دی. هغه داسې يو شعر لري چې هر بند يې شپږ مسرې لري، چې لومړۍ دوه مسرې سره هم قافیه او څلور نورې يې حلزوني قافیې جوړوي. د ګلچین ګیلاني نومورۍ شعر ((برګ)) نومیږي، چې دلته يې دېبلګې په توګه تاسو ته وړاندې کوم:

باد شبگیر می کشد فریاد
که گل و برگ و سبزه ویران باد
با فغان پرندهٔ شب خیز
زیر اشک ستارگان بلند
برگ و گل روی سبزه می افتند
زرد از مشت وسیلی پاییز
(روزگار نو، ۱۳۲۴)

د ګلچین ګیلاني په پورتني شعر کې د لومړۍ دوو مسرو روستۍ کلمې (فریاد او باد) سره هم قافیې دي، د دویم بیت لومړۍ اودرېیم بیت روستۍ مسرې سره هم قافیې دي او د دویم بیت دویمه مسره د درېیم بیت له لومړۍ مسرې سره هم قافیه دي. په پای کې باید ووایم چې، د پورته شعر له لومړي بیت وروسته، څلور مسرې پخپل منځ کې سره حلزوني قافیه جوړوي. نورې ېبلګې يې لاندې اشعارو کې لوستلی شئ.
سهراب سپهری پخپل یو شعر ((درهٔ خاموش)) کې خلزوني قافیه کارولې ده:

نشته در پس هر صخره وحشتی به کمین
کشیده از پس یک سنگ سوسماری سر
ز خوف درهٔ خاموش
نهفته جنبش پیکر
به راه می نگرد سرد، خشک، تلخ، غمین
(سپهري، ۱۳۸۰: ۴۲)

د سهراب سپهري په پورته مخمس کې، د لومړۍ مسرې او پنځمې مسرې قافیې سره یوشان دي او په منځ کې يې درېیمه مسره را چاړېره کړې او دویمه او څلورمه مسره سره هم قافیې دي، چې حلزوني قافیه يې جوړه کړې ده. همدارنګه ابولقاسم لاهوتي پخپل یو شعر کې چې د ویکتور هوګو د شعر ژباړه ده، حلزوني قافیه کارولې ده. نومورۍ شعر يې ((سنګر خونین)) نومیږي.
اذنم بده به خانه روم تا کنم وداع
با مادر عزیز – (به سلطان فوج گفت)
الساعه خواهم آمد
عجب حقه ای زدی!
محکوم کیستی اگر اصلاً نیامدی؟
سلطان، نه ! داد پاسخ او کودک شجاع
(لاهوتی ، ۱۳۸۵: ۶۸۹)

په پښتو ژبه کې د زنځیري قافیې ېبلګې
په پښتو ژبه کې د حلزوني قافیې ېبلګې په لرغوني، منځنۍ او معاصرې شاعرۍ کې نه تر سترګو کیږي، که چېرې په ځینو ولسي نکلونو او کیسو کې کارول شوي هم وي، نو د حلزوني قافیې په پیروي نه دي ویل شوي ، بلکې کېداشي په ناخبره توګه يې نومورې قافیه په ځینو ځایونو کې کارولې وي.... په اوسنۍ شاعرۍ کې، تاند او ځوان شاعر محمد ابراهیم کرور حلزوني قافیه خپلو اشعارو کې کارولې ده، چې دلته يې تاسو ته وړاندې کوم :

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بې له تا مې زړه د تنګې خولې منګې شو
د حیات زهر مې ښه پکې ساتمه
بل به څوک وي، نور به څه پکې ساتمه
نور کرور دې تاته یکې یو سړی شو

که پورته څلوریزې ته ځیر شو، نو ویلی شو، چې د لومړۍ مسرې ((منګی)) او د څلورمې مسرې ((سړی)) سره هم قافیه کلمې دي او د دویمې مسرې ((ښه)) او د درېیمې مسرې ((څه)) په خپل منځونو کې هم قافیه کلمې دي. هېره دې نه وي، چې په لومړۍ او څلورمې مسرو کې ((شو، شو)) او په دویمې او درېیمې مسرو کې ((پکې ساتمه ، پکې ساتمه)) ردیفونه جوړوي.

۳. ځنځیرې قافیه

ځنځیرې قافیې ته په انګلیسي ژبه کې chain rhyme وایي. په فارسي ژبه کې د حلزوني قافیې په شان پرې نوم نه دی کېښودل شوی. chain په انګلیسي ژبه کې ځنځیر ته وایي. خو ځنځیرې قافیه هغې قافیې ته وایي چې د هغه بندونه له دریو مسرو څخه رغېدلي وي، چې په ټولو بندونو کې لومړۍ او دریمه مسره سره همقافیه وي او منځنۍ مسره دوروستیو بندونو له لومړۍ او درېیمې مسرو سره قافیه جوړوي. نو که ددې قافیې جوړښت ته وکتل چې واقعاً د ځنځیر په شان یو په بل کې نغښتي دي. د نوموړې قافیې هندسي جوړښت په لاندې ډول دی:

a
b
a

b
c
b

c
d
c

.

Chain Rhyme Definition

Chain rhyme is the linking together of stanzas by carrying a rhyme over from one stanza to the next.

A number of verse forms use chain rhyme as an integral part of their structures. One example is terza rima, which is written in tercets with a rhyming pattern a-b-a, b-c-b, c-d-c. Another is the virelay ancien, which rhymes a-a-b-a-a-b, b-b-c-b-b-c, c-c-d-c-c-d.

Other verse forms may also use chain rhyme. For instance, quatrains can be written to the following pattern: a-a-b-a, b-b-c-b, c-c-d-c.

په انګلیسي ژبه کې د ځنځیرې قافیې بېلګې :

O wild west wind, thou breath of Autumns being
Thou, from whose unseen presence the leaves dead
Are driven, like ghosts from an enchanter fleeing

Yellow, and black, and pale, and hectic red
Pestilence – stricken multitudes: O thou
Who chariotest to their dark wintry bed
(sokhanvar, 1996:171)

په پورتني دوه بندونو کې چې شپږ مسرې لري، لومړي بند کې د لومړۍ مسرې قافیه د درېیمې مسرې له قافیې سره هم وزنه او همقافیه کلمې لري. په دویم بند کې هم همدارنګه د لومړۍ مسرې قافیه د درېیمې مسرې له قافیې سره هم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وزنه او هم قافيه کلمي لري. هېره دې نه وي چې د لومړي بند منځنۍ مسره د راتلونکي بند له لومړۍ او درېيمې مسرې سره هم قافيه کلمي جوړوي. چې دې ډول قافيې ته ځنځيري قافيه وايي.
ځنځيري قافيې ته په ترکي ژبه کې **Örüşük Kafiye** (اوروشک قافيه) وايي. په دې برخه کې تاسو ته په ترکي ژبه کې د نوموړي قافيې پېژندنه او په هماغه ژبه د هغه بېلګې وړاندې کوم

Örüşük Kafiye

Üç dizeli bentlerde kullanılır. Edebiyatımızda ilk örneklerini “ servet-i fünun” vermiştir. “Terza rima” denilen nazım biçimi yalnızca örüşük kafiye ile yazılır. Her üçlükte birinci ve üçüncü dizeler kendi arasında kafiyelidir. İkinci üçlükten itibaren her üçlükte birinci ve üçüncü dizeler bir üsteki üçlüğün orta dizesiyle kafiyeli olur. Terza rimada son üçlükten sonra şiir tek dize ile bitirilir: **aba bcb cdc d.**

Kafiye şeması: “ a b a” “ b c b “

Bir dereden kop**ardım** (a)
Bu incecik kam**ışı** (b)
Ve bir bıçakla y**ardım** (a)

Pek solgunsa da d**ışı** (b)
Sesinde gizli, berr**ak** (c)
Pınarların ak**ışı**: (b)
Ali Mümtaz Arolat

د ښاغلي علي ممتاز آرولات په پورتني شعر کې،چې دوه بندونونه لري، ځنځيري قافيه کارول شوې ده. د لومړي بند لومړۍ مسره د لومړي بيت له درېيمې، د دويم بند لومړۍ مسره د دويم بند له درېيمې مسرې سره هم قافيه دي او د لومړي بند منځنۍ مسره د دويم بند له لومړۍ او درېيمې مسرو سره هم قافيه دي. چې دې ډول قافيې ته ځنځيري قافيه ويل کيږي.
ځنځيري قافيه په فارسي ژبه کې د ډېرو شاعرانو لخوا و نه کارول شوه، يوازې ابوالقاسم لاهوتي او ځينو نورو شاعرانو نوموړې قافيه په خپلو اشعارو کارولې ده، چې دېبلګې په توګه يې تاسو ته وړاندې کوم:

قصه ها از حيات حاتم طی
خوانده ام با شينده ام بسيار
همگی شاهد فتوت وی

ثروت حاتمی نداشت شمار
مال هم بی شمار می بخشود
به فقيران بی کس و بی کار
(لاهوتی، ۱۳۵۸: ۴۷۸)

په پورته لومړي بند کې (طی او وی) او دويم بيت کې (شمار او بی کار) سره همقافيې کلمې دي او د لومړي بند منځنۍ مسره د دويم بيت د لومړۍ او درېيمې مسرو قافيې تعقيبوي.
اوس راځم د پښتو ژبې په هکله به ووايم چې د ځنځيري قافيې کارونه ما د پښتو ژبې په لرغوني، کلاسيکه او اوسنۍ دور شاعرۍ کې نه دي تر سترګو شوي، که چېرې کوم ديواني يا هم ولسي شاعر کارولي وي، نو په ناخبره توګه به يې کارولي وي. کله مې چې ددې قافيې بڼه له خپلو ټولګيوالو سره شريکه کړه، نو تاند شاعر او ګران ټولګيوال محمد ابراهيم کرور د نوموړې قافيې په بڼه يو شعر وليکه، چې زه يې هم د بېلګې په توګه تاسو ته در وړاندې کوم:

د لېونۍ مينې انجام لېونی a
ته رانه مه پوښته چې حال مې څه دی b
خپل بخت راکړی دی انعام لېونی a

ثواب مې څه دی او وبال مې څه دی b
ژوندي کالبوت کې لکه مړی يمه c
کند او کچکول لرم نور مال مې څه دی b

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د کنډواله وجود رغون به شمه c
کرور به ببرته کړم کرور جانه d
داسي د ورک ځان په لټون به شمه c

ښاغلي کرور پورتنی شعر د ځنځيري قافيي په بڼه ليکلی، هغه دا چي د هر بند لومړی او درېيمه مسري سره همقافيه او منځنی مسره يي د راتلونکي بند له لومړی او درېيمي مسرو سره همقافيه دي. هېره دي نه وي چي په لومړي بند کي (لېونی، لېونی)، دويم بند کي (مي څه دی، مي څه دی) او درېيم بيت کي (به شمه، به شمه) رديفونه دي .

ماخذونه :

۱) بخشی، حسین. بررسی سه نوع جدید قافیه در شعر مشروطه : ادبیات پارسی معاصر، پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی سال چهارم، شماره سوم، پاییز ۱۳۹۳، ۱- ۱۴
۲) قافيه در شعر معاصر فارسي ونقش ان درهماهنگی شعر و انتقال مفاهيم، يعقوب نوروزی / حجت الله قهرمانی
۳) اسحاق، محمد (۱۳۷۹). شعر جديد فارسی ، ترجمه سيروس شميسا، تهران: فردوس.

4) Sokhanvar, jalal (1996). The practice of literacy, terminology, Tehran: SAMT.
5) Elçin, şükrü (2005). Halkedebiyatınagiriş,9,baskı,ankara: akçağ yayınları.

6) https://l.facebook.com/l.php?u=https%3A%2F%2Fwww.google.com%2Furl%3Fsa%3Dt%26source%3Dweb%26rct%3Dj%26url%3Dhttp%253A%252F%252F1ahaber.com%252Fkafiye-semasi-nedir-en-yaygin-ornekleri%252Famp%252F%26ved%3D2ahUKEwjdhrjtiurkAhXOfFAKHesHAjcQFjAHegQIBRAB%26usg%3DAOvVaw13VVCfBipjPM3UJ3eS6UN7%26ampcf%3D1%26fbclid%3DIwAR2G5JU2af4ODMCm-W2nNHk9dPDPAnGJFCCWrnjhki92N9Abs7aS8EN_eLI&h=AT0cLWdIHUJ0gFFP1G9VCwrTqu63oCai-y2JuJGwvuYSIao-cw9lOcKpsrNdhVlD0etxWmUhx7u1QmBOP8M0D6HSHQcbj0BRfrQiMWgemD6efeWMe2JIfj0w23iTRxMZp1Lg
7) https://l.facebook.com/l.php?u=https%3A%2F%2Fwww.cokbilgi.com%2Fyazi%2Fkafiye-orgusu-uyak-semasi%2F%3Ffbclid%3DIwAR1Je2S4IxiWl9CO-3JD8Fm3yVmsjyMYpJN2BViSjaU72VjEimBPNOEzjkw&h=AT0cLWdIHUJ0gFFP1G9VCwrTqu63oCai-y2JuJGwvuYSIao-cw9lOcKpsrNdhVlD0etxWmUhx7u1QmBOP8M0D6HSHQcbj0BRfrQiMWgemD6efeWMe2JIfj0w23iTRxMZp1Lg
8) https://study.com/academy/lesson/poems-with-abab-rhyme-scheme-examples-lesson-quiz.html
9) http://www.languageisavirus.com/poetry-guide/chain_rhyme.php
10) http://oxforddictionaries.com/definition/english/rhyme
11) https://en.wikipedia.org/wiki/Chain_rhyme
12) https://www.litcharts.com/literary-devices-and-terms/rhyme-scheme
13) https://www.revolvy.com/page/Chain-rhyme
14) https://www.poetrysoup.com/poems/chain_rhyme
15) https://literarydevices.net/rhyme-scheme/
16) https://www.litcharts.com/literary-devices-and-terms/rhyme-scheme
17) https://study.com/academy/lesson/poems-with-abab-rhyme-scheme-examples-lesson-quiz.html
18) https://en.wikipedia.org/wiki/Enclosed_rhyme
19) https://www.britannica.com/art/enclosed-rhyme